كتاب المرأة المسلمة ـ بشتو

# دزنانو متعلق احكام



جمعية الدعوة بالزلفي

جمعية الدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بالزلفي

هاتف: ٤٢٣٤٤٦٦ ٠١٦ ـ فاكس: ٤٢٣٤٤٧٧ ٠١٦

242

# د زنانو متعلق احکام

## أحكام المرأة المسلمة- بشتو

جمعية الدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات في الزلفي
Tel: 966 164234466 - Fax: 966 164234477

# كتاب المرأة المسلمة


أعده وترجمه الي اللغة البشتو

جمعية الدعوة والإرشاد و توعية الجاليات بالزلفي

الطبعة الثانية: ٨/ ١٤٤٣هـ

ح المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بالزلفي

فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر

المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بالزلفي

كتاب المرأة المسلمة - الزلفي، ١٤٣٩هـ

ردمك: ١-١٢-٨٢٤٣-٦٠٣-٩٧٨

(النص باللغة البشتو)

١- المرأة في الإسلام          أ- العنوان

ديوي ٢١٩,١          ١٤٣٩/٦٣٥٨

رقم الايداع: ١٤٣٩/٦٣٥٨

ردمك: ١-١٢-٨٢٤٣-٦٠٣-٩٧٨

# د ښځو سره تړلی شوی حکمونه او مسائل:

## اسلام کښې د ښځې مقام :

اسلام کښې د ښځې په حیثیت باندی خبرو کولو نه مخکښې په نورو معاشرو کښې دښځې حیثیت پیژندل ضروری دی :

## یونانی معاشره کښې:

یونان والو به ښځې د حیواناتو پشان اخستلی او خرخولی ، د ښځې دپاره هیڅ قسم حق نه وو ، ټول حقونه د سړو دپاره وو، ښځه به د میراث نه هم محرومه وه ، د خپل مال د خرچ کولو اختیار ئې هم نه لرلو ، د یونان مشهور فلسفی سقراط وئیلی وو چې د دنیا د تباهئ د ټولو نه لوی سبب د ښځې وجود دی، ښځه د زهریله بوټی پشان ده ، چې خائسته شکل لری لیکن چې مارغه ئې وخوری فورًا مړ کیږی .

**رومی معاشره :** درومیانو دا خیال وو چې د ښځې هیڅ روح نشته ، او په هغه معاشره کښې ښځه د یو بې قیمته څیز نوم دی ، چه ددې هیڅ حقوق نشته دې ، د هغوی دا نعره وه

(د ښځې روح نشته دی) ددی وجی نه به ښځو له قسماقسم عذابونه ورکیدل ، کله به ئې په ګرمو تیلو باندي سوزوله ، کله به دستنو پسی ترلی او کله بغیر د قصور نه د آس لکئ پوری وترلی او آس به ئی دومره تیز کړوچه ښځه به مړه شوله .

**هندی معاشره** : دغه رنګه سلوک د ښځې سره په هندوستانی معاشره کښې هم کیدو بلکه کله چي به د ښځې خاوند مړشو نو ښځه به ئی ژوندئ په اُور سوزوله (دی رسم ته به ئی ستی ووئیلی چي موجوده حکومت کښې جرم ټاکلی شوی دی) .

**چینی معاشره**: چین والو به ښځې د هغه اُوبو سره مثال ورکوو چي هغی سره انسانی خوشحالی او مال دولت وینځلی کیږی ، یو چینی سړی ته به دا حق حاصل وو چه خپله ښځه خرڅه کړی ، یا ئی ژوندئ په زمکه کښې خخه کړی.

**یهودیت** : یهودیان ښځې ته لعنتی وائی ځکه چي آدم علیه السلام ئی دهوکه کړی وو، هغه باندی ئی میوه د ونی خوړلی وه ، او کله چي حائضه شی بیا ورته نجسه وائی ، چي کور پلیت کوی ، او هر څه سره چي حائضه ولګی هغه پلیت

وی ، د پلار په میراث کښې د ښځې هیڅ حق نوی چي کله رونړه موجود وی .

<u>**نصرانیت**</u> : نصاری ښځې ته شیطانه وائی ، یو عیسائي پادري وئیلی دی ، چي ښځه انسان نه ده ، یو بل عیسائي پوپ (بونافنتور) وئیلی دی ، چي کله تاته ښځه په نظر راشی نو داګمان مه کوه چي ته انسان ته ګوری ، او یا حیوان ته ګوری بلکه کوم څیز چي تاته په نظر راځی داخالص شیطان دی ، او څوک چي د ښځې آواز آوری ، دا د مار آواز دي تردي پوري چي دیورپ په سِول لاء (شهری قانون) کښې د تیري شوي صدئ پوري دښځي شهری حیثیت نه وو، او نه ورته شخصی حقونه ورکړی کیدل ، او ښځي دپاره دا اختیار نه وو چي ذاتی ملکیت وساتی تردی چي ښځه د خپلو اغوستو جامو هم مالکه نه وه ، اسکاټ لینډ پارلمان په ۱۵۶۷ء کښې بِل پاس کړی وو چي ښځې له به هیڅ څیز باندی اختیار نه ورکولی کیږی ، هنری هشتم(Henry viii) په زمانه کښې برطانوی پارلمان دا فیصله کړی وه چي ښځه به انجیل نه لولی ځکه دا ناپاکه ده .۱۵۸۶ءفرانس کښې یو کانفرس ددی دپاره منعقد شوی وو چي دا فیصله وکړی چي

آیا ښځه انسان دی اوکه نه ؟ بیا ئی فیصله وکړه چي ښځه انسان دی خو صرف د سړی د خدمت دپاره پیداء شوی ده .١٨٠٥ءپوری انګریزی قانون د خپلی ښځی د خرڅولو اِجازه ورکوله ، د ښځی قیمت ئی شپږ ټکے مقرر کړی وو .

## د عربو د جاهلیت معاشره:

د اسلام د راتللونه مخکښي عربو کښي ښځه یوه سپک څیز ګڼړلي کیده ، چي نه ئي میراث کښي څه حصه وه اونه ئی څه اهمیت ورکولو ، اونه د ښځي څه حقونه وو، اکثرو خلقو به ژوندئ لونړه خخولي

## دین اسلام او ښځه :

اسلام د راتللو سره د ښځو نه ټول ظلمونه لری کړل ، دا خبره ئی واضحه کړه چي ښځه او سړی برابردی څنګه چي د سړی حقونه دی ، دغه رنګه د ښځي حقونه دی الله تعالی فرمائی:

[يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ] {الحجرات:١٣}

ترجمه : اے خلقو! يقينًا مونږ پيداء کړی يئ تاسو د يو نارينه او د يوی زنانه نه ، او جوړ کړی ئی مونږ تاسو خاندانونه او قبيلئ ددی دپاره چی يو بل اُوپيژنئ يقينًا ډير عزت مند ستاسو نه د الله تعالی په نيز ډير تقوی دار دی ، الله تعالی بل ځائی فرمائی:

[وَمَن يَعْمَلْ مِنَ الصَّالِحَاتِ مِن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُوْلَئِكَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ وَلاَ يُظْلَمُونَ نَقِيرًا] {النساء:١٢٤}

ترجمه : چا چی عمل وکړو د نيکو اعمالونه نارينه وی اوکه زنانه وی، او دی وی موحد پس دغه کسان به داخليږی جنت ته ، او ظلم به نشی کيدی په دوی باندی په قدر د داغ د هډوکی د کهجوری) بل ځائي الله سبحانه وتعالی فرمائی:

[وَوَصَّيْنَا الإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ حُسْنًا] {العنكبوت:٨}

(اوکلک حکم کړيدی مونږ انسان ته د مور او پلار سره د ښيګړی کولو) رسول اللهﷺفرمائيلی دی :

أَكْمَلُ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحْسَنُهُمْ أخلاقا، وَخَيْرُكُمْ خَيْرُكُمْ لِنِسَائِهِمْ خُلُقًا»رواه الترمذی: ١٠٨٢).

ترجمه : د ایمان په لحاظ سره کامل مؤمن هغه دی چي خائسته اخلاق ولری ، او تاسو کښې غوره هغه څوک دی چي د خپلو ښځو دپاره د اخلاقو په لحاظ سره غوره وی.

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ مَنْ أَحَقُّ بِحُسْنِ صَحَابَتِي قَالَ أُمُّكَ قَالَ : ثُمَّ مَنْ ؟ قَالَ : أُمُّكَ قَالَ : ثُمَّ مَنْ ؟، قَالَ : أُمُّكَ قَالَ : ثُمَّ مَنْ ؟ قَالَ : ثُمَّ أَبُوكَ .(متفق عليه :٢٥٤٨،٥٩٧١)**

ترجمه : ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی ، هغه وائی چي یو سړی رسول الله ﷺ نه تپوس وکړو چي ټولو خلقو کښې څوک ډیر حقدار دی چي زه ورسره ښه سلوک وکړم؟،رسول الله ﷺ جواب ورکړو ستا مور، هغه تپوس وکړو چي بیا څوک ؟ رسول الله ﷺجواب ورکړو چه ستا مور، هغه بیا تپوس وکړو، بیا ورته ووئیلی : مور ستا، هغه سړی بیا تپوس وکړو، رسول الله ﷺ په څلورم ځل جواب ورکړو چي پلار ستا ، ددی نه د اسلام اخلاق معلومیږی او دا په اختصار سره د ښځي په باره کي د اسلام نظر وو.

## د عامو ښځو حقونه:

هره ښځه باندي خپل حقونه پیژندل لازم دی ، د هغي علم هري ښځي دپاره پکار دي ، او معاشره کښې هم باید دغه حقونه وومنلي شی چي کله هم ښځه د خپل حق مطالبه کوی چي په آسانه ورکړي شی، ددي حقوقو تفصیل په لاندي ډول دي :

**۱-حق ملکیت** :

هره ښځه خپل شخصی ملکیت ساتلي شی مثلًا کور ، زمکه کارخانه ، باغ ، سر زر، سپن زر وغیره ، او دغه رنګه مختلف قسم ځناور هم اخستلی شی ، برابره ده که د سړی مور ، ښځه،لور ، او خور یا هرڅوک وی .

**۲-د واده حق او د خاوند انتخاب** :

دغه رنګه دخلع اخستلو، او د تکلیف په صورت کښې د طلاق مطالبه هم کولی شی، د ښځی داقسمه حقونه بالکل ثابت دی .

**۳-د علم حصول :**

دښځی بنیادی حق دی چي د خپلو ذمه وارو په حقله اسلامی معلومات حاصل کړی ، لکه د الله پیژندل ، عبادات او دهغی د ادا کولو طریقۀ او هغه حقونه پیژندل چي د هغی اداء کول وربانډی واجب دی ، د خپل ژوند آداب زده کول ، او د دینی علم حاصلول د دوی حق دي ، د الله تعالی حکم د سړو ښځو ټولو دپاره دي :

**[فَاعْلَمْ أَنَّهُ لا إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ] {محمد:۱۹}**

ترجمه : پس پوهه شی چي یقینًا نشته حقدار د بندګۍ سیواء د الله تعالی نه رسول ﷺ فرمائیلی دی:

**(طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيضَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ) . (ابن ماجه)**

ترجمه : دعلم حاصلول هرمسلمان سړی او ښځه باندي فرض دی .

**٤- د خپل مال د خرچ کولو حق :**

ښځه که خپل مال کښې صدقه کوی ، یا په ځان باندی خرچ کوی ، او بل چا باندي خرچ کوی لکه خاوند ، بچی ،

مور او پلار یا نیا او نیکه ، پدي شرط چی اسراف به نه کوی نو لکه څنګه چی سړی خرچ کوی، دغه رنګه ښځه هم خرچ کولی شی .

**٥-شخصی طور باندی خوښ اوناخوښ:**

مطلب دادی چی ښځه د بلی نیکۍ او ديندارہ زنانه سره د شريعت د حدودو د لاندی تعلق جوړولی شی ، هغوی سره د تکليف وخت کښې همدردی کولی شی، نورد ژوند مختلفو معاملاتوکښې شريک کيدلی شی ، د خاوند یا دنورو مشرانو په اجازه باندی.

**٦-د وصيت کولو حق :**

ښځه هم د خپل مال نه په دريمه حصه کښې وصيت کولی شی ، د هغی د وفات نه روستو به بغير د اعتراض نه نافذ کيدلی شی، څنګه چی سړی د وصيت حق لری، دغه رنګه ښځه هم وصيت کولی شی ، مګر وصيت به د ټول مال په دريمه حصه کښې کوی ددی نه زيات به نشی نافذ کيدلی.

**۷-دلباس منتخب کول :**

زنانه دپاره د لباس اختیار دی، که ریښم استعمالوی ، که سره زر استعمالوی ، دا دوه قسمه لباس ددی امت سړو باندی حرام دی ، لیکن لباس به د شریعت مطابق وی، یعنی بدن ښکاره کول سر یا سینه ښکاره کول ورله حرام دی ، صرف خپل خاوند ته اجازه عامه ده .

**۸-د ډول سینګار حق :**

د خپل خاوند د خوشحاله کولو دپاره ډول سینګار کولی شی ، لکه سترګو کښې رانجه اچول ، په شونډو سرخی لګول وغیره، صرف دهغه لباس نه به ځان ساتی چه د کافرانو خاص لباس وی ، یا د بد کارو خلقو خاص لباس وی دهغی نه ځان ساتل پکار دی .

**(۹)د خوراک څښاک حق :**

بس کوم څیز چی ورله مزه ورکوی هغه دِی خوری ، او کوم څیز چی طبیعت ته خوښ نوی ندی خوری ، خوراک څښاک کښې د ښځی او سړی دپاره هیڅ فرق نشته دی ، شریعت

کښې چې څه حلال وی هغه د ښځې او سړی دواړو دپاره حلال دی ، او څه چې حرام وی هغه د ښځې او سړی دواړ دپاره حرام دی ، الله تعالی فرمائی:

[وَكُلُوا وَاشْرَبُوا وَلَا تُسْرِفُوا إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ]أعراف:۳۱}

ترجمه :خورئی او څکئ او د حد نه زیاتی مه کوئ ، یقینا الله تعالی مینه نه کوی د حد نه د زیاتی کوونکوسره .

## خاوند او د ښځې یو بل باندی حقونه:

څنګه چې د ښځې بعض خاص حقونه خاوند باندی وی ، او خاوند باندی دهغی اداء کول واجب وی ، دغه رنګه د خاوند هم خپله ښځه باندی حقونه وی ، لکه د مثال په طور ښه کارونو کښې د خاوند اطاعت کول ، د خوراک څښاک تیارول، بچو له پیئ ورکول ، او د هغوی تربیت کول، د خاوند د مال او عزت حفاظت کول ، خاوند ته ځان ډولی کول ، د خومره ډول اجازه چې شریعت ورکړی ده ، اوس د ښځې واجب حقونه په خاوند باندی هم شته ، الله تعالی فرمائی:

[وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ] {البقرة:۲۲۸} .

او دوی(ښځو)لره حقونه دی پشان د هغی چی په دوی لازم دی په شرعی طریقه ، دا حقونه ځکه بیانوو چه مسلمانه ښځه خپل حقونه وپیژنی او بغیر دحیاء او یری نه د خپل حق مطالبه وکړی ، خاوند باندی اداءکول لازم دی ، ترڅوچی ښځه ورته عفوه ونه کړی ، تفصیل ئی دادی :

۱-خاوند باندی د هغه د وس مطابق د ښځی نفقه لازم ده مثلًا جامی ، خوراک څښاک ، علاج ، کور وغیره

۲-د ښځی د عزت ، مال ، بدن او ددین حفاظت کول د خاوند ذمه واری ده ، ځکه خاوند د ښځی سرپرست دی .

۳-د اسلامی احکامو په باره کښې ښودنه ورکول په خپله باندی ، یا په مدرسه یا مسجد کښې په دینی مجالسو کښې چی د فتنی یره پکښې نه وی زنانه دپاره اجازه ورکول پکار دی .

٤-ښځی سره خائسته ژوندکول ، الله تعالی فرمائي :

[وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ] {النساء:۱۹}

ترجمه : ژوند تیر کړئ دوی سره په ښی طریقه ، د خائسته ژوند نه داده چی په نزدیکت (جماع)کښې د ښځی پوره پوره

حق اداء کړی شی ، ضرر ورله ورنه کړي شی ، په کنځلو ، سپکولو ، رټلو او عیب لګولو وغیره سره ، او د خائسته ژوند نه داده چی د خپل خپلوانو سره د ملاقات اجازه ورکړي شی چی دفتنه یره نوی ، د وس نه زیات کار ورته سپارل ندی پکار، په وینا اوعمل کښې ورسره احسان کول پکاردی، رسول اللهﷺ فرمائیلی دی:

«خَيْرُكُمْ خَيْرُكُمْ لأَهْلِهِ، وَأَنَا خَيْرُكُمْ لأَهْلِي»

ترجمه : تاسو کښې غوره هغه څوک دی چی دخپل کوروالو دپاره غوره وی .

## ستر او پرده:

شریعت اسلامی پوره کوشش کړیدی چی خاندان د تس نس او ضائع کیدو نه وساتی ځکه ئی د آدابو او خائسته اخلاقو د یوالو نه ګیرچاپیره ودرولی دی چی د انسان زړه دګناه نه پاک وی ، او معاشره هم صفا ستهره وی، نه شهوت پرستی وی ، او نه د جذباتو راوچتیدل وی ، کوم جذبات چی فتني له هواء ورکوی د هغي مخکښې ئې هم د یوالونه ودرولی دی چی سړی او ښځی به خپل نظرونه ښکته ساتی .

د ښځی د عزت په خاطر الله تعالی دپردی حکم نازل کړی دی چی ددی د عزت حفاظت وشی ، د هغه خلقونه چی زړونو کښې ئي مرض او فساد دي ، او کوم خلق چی د ښځي د عزت قیمت نه پیژنی دداسي خلقونه دزنانو حفاظت وکړي شی ، د زهریله نظر نه د بچاؤ دپاره، چی د فتني دروازه مکمل بنده شی ، داسی به د زنانه د عزت او احترام حفاظت وکړي شی،

د اسلام علماء پدي خبره اتفاق لری چی د ښځي دپاره پرده واجبه ده چی د محرم رشته دارو او غیر رشته دارو نه خپل ډول او زینت او د فتنی ځایونه پټکړی ، البته د مخ او د لاسونو ښکاره کولو کښې اختلاف دی دوه ډلی دی ، د هري ډلي دپاره خپل خپل دلائل موجود دی ، او د مخالف ډلی د دلائلو توجیه او تاویل کوی، هغه دلائل چی دهغي نه وجوب د پردي معلومیږی هغه په لاندي ډول دی:

[وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِن وَرَاءِ حِجَابٍ ذَٰلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ] {الأحزاب:٥٣}

ترجمه : کله چې سامان غواړئ د دوی نه نو وغواړئ ترینه شاته د پردي نه ، دا طریقه ښه پاک ساتونکی ده زړونو ستاسو او زړونو د دوی لره .

**[يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاء الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلابِيبِهِنَّ ذَلِكَ أَدْنَى أَن يُعْرَفْنَ فَلا يُؤْذَيْنَ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا] {الأحزاب:٥٩}**

ترجمه: اےنبیﷺ ! اووایه بیبیانو او لونړو خپلو ته او بیبیانو د مؤمنانو ته چې راویزان کړی د ځان دپاسه د لویو پړونو خپلو نه ، دا ډیره نزدی ده چې دوی به اوپیژندلی شینونه به شی تنګولی ، او دی الله تعالی بخنه کونکی رحم کونکی .

**[وَقُل لِّلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلاَّ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ وَلا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلاَّ لِبُعُولَتِهِنَّ] {النور:٣١}**

ترجمه : او اووایه ! مؤمنو زنانو ته چې کوزساتی د نظرونو خپلونه اوبچ ساتئ عورتونه خپل او نه ښکاره کوی ډول خپل مګر هغه چې ښکاره شی ، د هغی نه

(بې اختیاره/مجبورًا) او راچوی دِی لوپټې خپلې په ګریوانونوخپلو باندی او نه دِی ښکاره کوی ډول خپل مګر خاوندانو خپلو ته ، او په احادیثو کښې د عائشه رضی الله عنها نه روایت دی ، فرمائی:

**قَالَتْ**: «**كُنَّ نِسَاءُ الْمُؤْمِنَاتِ يَشْهَدْنَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم صَلاَةَ الْفَجْرِ مُتَلَفِّعَاتٍ بِمُرُوطِهِنَّ ثُمَّ يَنْقَلِبْنَ إِلَى بُيُوتِهِنَّ حِينَ يَقْضِينَ الصَّلاَةَ لاَ يَعْرِفُهُنَّ أَحَدٌ مِنَ الْغَلَسِ**» **متفق عليه** .

ترجمه : مؤمنانۍ زنانه به حاضریدلي د رسول الله ﷺ سره سَهر مانځه ته چې ځانونو نه به ئې راتاؤ کړی وو په پړونو کښې ، بیا به واپس شوی خپلو کورونو ته کله به چې مونځ خلاص شو ، په داسي حال کښې چې د تیاری د وجي نه به هیچا نه پیژندلي.

**وقَالَتْ**: «**كَانَ الرُّكْبَانُ يَمُرُّونَ بِنَا وَنَحْنُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم مُحْرِمَاتٌ فَإِذَا حَاذَوْا بِنَا سَدَلَتْ إِحْدَانَا جِلْبَابَهَا مِنْ رَأْسِهَا إِلَى وَجْهِهَا فَإِذَا جَاوَزُونَا كَشَفْنَاهُ**» **اخرجه ابوداودواحمد**:١٥٦٢، (٢٢٨٩٤

ترجمه : عائشه رضي الله عنها فرمائي ، مونږ د احرام په حالت کښې د رسول اللهﷺ سره سفر کولو ، قافلي به زمونږ خواء سره تیریدلی چی کله به رانزدی شوی نو یوی ښځی به خپل د سر پړونی په مخ باندی را اویزان کړو چی قافله به تیره شوله نو بیا به مو مخونه ښکاره کړل .

**وقَالَتْ: " يَرْحَمُ اللَّهُ نِسَاءَ المُهَاجِرَاتِ الأُوَلَ، لَمَّا أَنْزَلَ اللَّهُ: {وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ} [النور: ٣١] شَقَّقْنَ مُرُوطَهُنَّ فَاخْتَمَرْنَ بِهَا،**

ترجمه : عائشه رضی الله عنها فرمائي : الله تعالی دِي په هغه اولنو مهاجراتو زنانو رحم وکړی ، کله چی الله تعالی دا آیت نازل کړو

**[وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ]** {النور:٣١}

ترجمه : او خپل پړونی دِی په خپلو سینو باندی واچوی، هغوی خپل څادرو نه وشلول او پړونی ئې تری جوړ کړل.

## پرده کولو باندی نور ډیردلائل هم موجود دی:

د پردي په حکم کښې د اختلاف باوجود هم اهل علم پدي خبره متفق دی چی د ضرورت مطابق ښځه خپل مخ ښکاره کولي شی ، مثلًا دمرض په حالت کښې ډاکټر ته یا د نور شرعی عذر مطابق ، او اهل علم پدی خبره هم متفق دی چی دفتنی په صورت کښې د زنانه دپاره مخ ښکاره کول حرام دی ځوک چی د مخ ښکاره کول جائز ګنړی هغوی هم د فتنی په صورت کښې مخ ښکاره کولو ته حرام وائي ، او بیا پدي زمانه کښې د فتني ډیره یره موجود ده، فساد او شر هر ځائی موجود دي ، او عام دي،

پدي حال کښې چی ښځه خپل مخ ښکاره کړی او بهر راوځی ، په سترکو زیاتی ډول ولګوی نوېدی صورت کښې د ټولو اهل علمو اتفاق دی چه دا حرام دی ، اسلام په ښځه باندی د پردو سړو سره میلاویدل ، یوځائي کیدل حرام کړیدی ، دا ټول تدابیر ددي دپاره دی چي د اخلاقو ، د عزت خاندان او ناموس حفاظت وشی ، د اسلام پوره پوره کوشش دی چي د ګناه نه د بچ کیدو ماحول جوړ شی ، د فتنی او د

فساد دروازی بندی شی ، ښځه د خپل کور نه وتل او د پردو سړو سره ګډوډ تلل ، خپل نمائش کول ، دا ټول کارونه شهوت راپورته کوی ، او د جرم لاري آسانوی ، الله تعالی فرمائي :

[وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الجَاهِلِيَّةِ الأُولَى] {الأحزاب:٣٣}

ترجمه : او اُوسئ په کوټو خپلو کښې او مه ښکاره کوئ ډول سینګار پشان د جاهلیت زوړ .

[وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِن وَرَاءِ حِجَابٍ ذَلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ] {الأحزاب:٥٣}

ترجمه : او کله چي سامان غواړئ د دوی نه نو غواړئ ترینه شاته د پردی نه ، داطریقه ښه پاک ساتونکي ده زړونو ستاسو او زړونو د دوی لره ، رسول اکرم ﷺ ښځي او سړی خپل مینځ کښې د اختلاط نه په سختئ سره منع کړی دی ، او کوم شکل چي د اختلاط جوړیږی د هغي نه هم منع کړیدی ، تردی پوری چي په عبادت او عبادت ګاه کښې هم منع کړیدی ، بعض وخت ښځه د خپل ضرورت دپاره د کور

نه وځی هغه ځائی ته چی هلته سړی وی ، مثلًا چی کور کښې ځوک سړی نوی نو د کور دپاره سودا اخستو دپاره بهر وځی ، یا د ځان او بچو دپاره د ډوډئ ګټلو دپاره کسب کوی پداسي صورتونو کښې وتل حرام ندی ، لیکن دشریعت د مقرر شوی حدودو خیال به کوی ، خپل ډول سینګار به خلقو ته نه ښکاره کوی ، او سړونه به جداء ځائی کښې کار کوی ، د سړو سره به اختلاط نه کوی ، د خاوند او داخلاقو د حفاظت دپاره اسلام د اقانون جوړکړیدی چی ښځه به یواځی ځائی کښې د غیر محرم سره نه میلاویږی او د خاوند یا د محرم نه علاوه د یوی پردئ ښځی سره به هم ځانله ځائي کښي نه میلاویږی ، ځکه شیطان مکمل کوشش کوی چی د خلقو زړونه او اخلاق برباد کړی .

## د حیض او نفاس حکمونه :

**د حیض موده:**

١-عام طور باندی دحیض موده د (١٢) دولسو کالونه تر(٥٠) پنځوس کالو پوری غالباً حیض راځی ، بعض وخت د موسم

یا د ماحول د اثر د وجی نه یا دمرض دوجی نه مخکښې روستو کیدی شی .

۲- کمه موده د حیض یوه ورځ ده ، او اکثره موده غالباً پنځلس ورځی وی.

**د حاملۍ حیض:**

عمومًا چه ښځه حامله شی دهغی حیض نه راځی ، که چرته د حاملی ښځی نه وینه شروع شی د ماشوم د پیدائش نه دوه دری ورځی مخکښې ، او ورسره درد د پیدائش هم وی نو دا وینه به د نفاس نه حسابیږی ، که چرته د ماشوم د پیدائش نه ډیره موده مخکښې وینه شروع شی ، او یا ډیره مخکښې نوی لیکن درد دپیدائش ورسره نوی ، دا نه حیض دی او نه نفاس دی (بلکه دا وینه به د استحاض نه حسابیږی یعني عامه بیماري ده چي د حیض احکام پری مرتب نه دي) .

**د حیض مختلف حالات :**

**اول صورت** : د حیض ورځو کښې کمی یا زیاتی : مثلا د یوی ښځی میاشت کښې عام طور(٦)شپږ ورځی حیض راځی ،

اُوس اُوومه ورځ باندی هم راځی ، یا عام عادت ئې اووه(۷) ورځي او په شپږمه ورځ ختمه شی .

**دوهم صورت** : مخکښې روستو کیدل ، مثلًا عادت د حیض په آخر د میاشت کښې وی ، نو بیا اول د میاشت کښې راشی ، یادمیاشت په اول کښې عام طور حیض راتللو لیکن اُوس دمیاشت په آخر کښې راشی ، بس کله چې وینه د خاص نښو د حیض سره وی نوحیض به حسابیږی ، کله چې وینه په خاص نښو سره ختمه شی ، نو زنانه پاکه شوه که ډیری ورځی وی او که کمی ، دغه رنګه که دمیاشت په اوله حصه کښې وی او که په آخري حصه کښې وی .

دریم صورت : زیـــــړ رنګ یا د خــړ رنګ والا وینه ، لکه ځنګه چی د زخم نه وځی، یا داسے خړ رنګ چی د زیــړوالی او تور والی په مینځ کښې وی ، که داسي وینه د حیض په ورځو کښې راغله ، یا د پاکی د راتللونه مخکښې راغله ، نو دا به حیض حسابیږی ، او دحیض حکم به ورله ثابت وی ، او که داسی رنګ والا وینه د پاکئ نه بعد راشی نو دا به حیض نه حسابیږی .

**شلورم صورت** : کله د حیض وینه لږه لږه راځی ، کله روانه شی ، او کله بنده شی ، صفائي راشي ، یا دیته نزدي صورت وی ، نو ددي دوه حالته دی ،

اولنی که داسی حالت د زنانه سره همیشه کیږی او نه ختمیږی ، نو دا د استحاض مرض وینه ده ، په کومه ښځه چی دا مرض راځی هغي ته مُستحاضه وائی ، دی باندی به د استحاضی احکام جاری کیږی .

درهم صورت،که وینه همیشه نه راځي بلکه کله کله راځی ، او ددی نه پس صحیح پاکوالی راځی ، که دا وینه د یوي ورځي نه کمه مودي دپاره بنده شی دا به طهر(پاکوالی) نه حسابیږی ، ددي قاعدي مطابق د یوي ورځي نه کم به طهر نوی مګر که څه علامي ولری لکه د حیض عادی ورځي ختمي شوی وی ، یا ښځه سپینی اُوبه ووینی، د سپینو اُوبو نه مراد هغه ماده ده چی د حیض د ختمیدونه پسد ښځی د رحم نه وځی .

**پنځم صورت** : که وینه بنده شی او د ښځی نه صرف لوند والی وځی ، نو که دا لوند والی د پاکوالی نه لږ مخکښي وی نو

حیض به حسابیږی ، او که د پاکوالی نه روستو وی بیا به حیض نه حسابیږی .

## د حیض احکام :

**اولنی صورت** : مونځ ، حائضه ښځه باندی فرضی او نفلی ټول مونځونه کول حرام دی ، او نه آداء کیږی ، پدی ورځو کښې په ښځه باندی مونځ فرض ندی ، مګر که د یورکعت په مقدار وخت رالاندی کـړي

د مونځ د وخت نه ، که اول وخت وی او که آخر وخت وی ، د اول وخت مثال لکه :

د لمر د ډوبیدو نه د یورکعت په مقدار وخت نه روستو ښځه باندی حیض راغلی دی ، نو ددي مونځ قضاء به راګرځوی ، کله چی پاکه شی ، ځکه چی دی د حیض د شروع کیدلو نه مخکښې د یو رکعت د آداء کولو په مقدار وخت را لاندی کړی وو ، د آخرنی وخت مثال : د نمر د راختلو نه دومره وخت مخکښې چی یو رکعت پکښې آداء کیدلی شی ، ښځه د حیض نه پاکه شی ، کله چی دا زنانه غسل کوی نو نمر راختلی وی ، نو ددی مونځ قضاء به کوی ځکه چه دی

دومره وخت چې یو رکعت پکښې اداءکیدلی شو رالاندی کړی وو.

څه داسی کارونه دی چې د حیض په حالت کښې زنانه باندی حرام ندی بلکه د هغی اجازه شریعت کښې راغلی ده لکه ذکر، تکبیر ، تسبیح ، تحمید ، بسم الله ، خوراکو غیره د حدیثو کتاب یا د فقه کتاب لوستلی شی ، دعاءکول ، او دعاء باندی آمین کولی شی ، د قرآن کریم تلاوت آوریدلی شی ، لیکن حائضه ښځه پخپله قرآن کریم نشی لوستلي ، البته که په سترګو ورته ګوری او په زړه تدبر کوی ، او په ژبه تلاوت نه کوی بیا څه حرج نشته دي ، مثلا قرآن کریم په یو ځائې کښې کولاو کیږدی ، په سترګو ورته ګوری ، او زړه کښې تلاوت کوی داسي کول بیا جائز دی ، حائضه ښځه تلاوت نشی کولی لیکن که مجبوره وی مثلا استاذه وی ، ماشومانو ته سبق وائی ، یا امتحان وی طالب العلمه د امتحان دپاره قرآن یادوی ، یا بل داسی ضرورت راشی بیا ورله قرآن لوستل جائز دی.

**دوهم صورت** : روژه  که فرضی وی او که نفلی ، په حائضه ښځه باندی ئی نیول حرام دی، که چرته روژه ونیسی هم تری نه صحیح کیږی ، البته که فرضی روژو کښې ورباندي حیض راغلي وی نو د هغې قضاء راګرځول واجب دی ، اګر که د نمر د ډوبیدو نه لږ مخکښې زنانه باندي حیض راشی ، بس روژه ئي ختمه شوله ، که فرضی روژه وی د هغې قضائي به راوړی ، او که چرته د نمر د ډوبیدو نه مخکښې زنانه محسوس کړه چې وینه د خپل ځائی نه روانه ده ، لیکن بهر نده راوتلي ، او بهر د نمر نه د ډوبیدو نه روستو راووتله دغه روژه ئي صحیح ده ، دغه رنګه که د صبا (صبا صادق) راختو پوري زنانه په حیض کښې ده ، بیا لږ وخت پس پاکه شوه ددغه ورځې روژه صحیح نده ، او که د صبا صادق راختو نه لږ مخکښې حیض بند شی ، نو ددغه ورځي روژه نیولي شی اګرکه غسل بیا روستو وکړی .

**دریم صورت** : د بیت الله طواف که فرضی وی او که نفلی وی په حالت د حیض کښې ښځه باندي حرام دي ، او د طواف نه علاوه د حج یا د عمری باقی ارکان آداء کولی شی، مثلًا د صفااو مروه سعی کول ، میدان عرفات کښې اُودریدل

منی او مزدلفه کښې شپه کول ، شیطانان ویشتل وغیره ددی اصولو مطابق ، که یوه زنانه د طهارت په حالت کښې طواف وکړی ، او بیا وروباندي حیض راغلي نو باقی مناسک به اداء کړی ځکه طهارت صرف د طواف دپاره شرط وو، باقی مناسک د حیض په حالت کښې هم کولی شی .

**څلورم صورت** : په مسجد کښې قیام کول دحائضی ښځی دپاره حرام دی .

**پنځم صورت** : نزدیکت(جماع) ، دحیض په حالت کښې ښځی سره نزدیکت کول خاوند باندی حرام دی ، او ښځه باندي هم حرام دی چې خاوند په ځان قادره کړی ، البته خاوند لره جائز دی چې په نورو طریقو شهوت پوره کړی .

**شپږم صورت** : خاوند باندی حرام دی چې ښځی له د حیض په حالت کښې طلاق ورکړی ، که پدي حالت کښې ښځې له طلاق ورکړی نو خاوند د الله او رسول نافرمان دی ، یو حرام کار ئې کړیدی ، خاوند باندی رجوع کول واجب دی ، او د حیض نه د پاکوالی پوری به ئی ځان سره ساتی ، که چرته بیا هم د طلاقو اراده لری نو په حالت د پاکوالی کښې به

طلاق ورکړی ، غوره خو داده چی راتلونکی دویم حیض پوري خبره روستوکړي شی ، او بیا خو یا دِي د ځان سره وساتی او یا دِی طلاق ورکړی .

اُووم صورت : حائضه ښځه چی د حیض نه فارغه شی نو دټول بدن صحیح طریقی سره غسل کول پکار دی ، د سر ویخته سپـړدل لازم ندی ، البته که دویختو بیخونو ته اُوبه نه رسیدلی بیا سپـړدل لازم دی ، که یوه ښځه د مونځ په وخت کښې پاکه شی نو سمدستی غسل کول ورباندی واجب دی چی ددی وخت مونځ وکړی ، او که د سفر په حالت کښې وي یا ورسره اُوبه نشته ، یا اوبه شته خو د مرض د وجی نه ئی نشی استعمالولی یابل د مجبورئ صورت دی نو د غسل په ځائي به تیمم ؤوهی بیا کله چی مجبوری ختمه شی نو بیا به غسل وکړی .

## د استحاض مرض وینه او د هغی حکمونه :

داستحاض مرض وینه ښځه باندي مسلسل راځی او نه بندیږی ، کله په میاشت کښې د یو دوه ورځو دپاره اودریږی، داهم وئیلئ شوی دی چی وینه میاشت کښې د پنځلسو (١٥)

ورځونه زیاته شی نو استحاض به حسابیږی که چرته د ښځی مستقل عادت نه وو.

**د مستحاضې زنانه دری حالتونه دی :**

**اول حالت** : د استحاض راتللو نه مخکښې ښځی ته د حیض عادتی ورځی معلومی وی نو دغه معلومو ورځو کښې به د حیض ورځی شمارلی کیږی ، او د حیض احکام ورته نه شاملیږی ، او باقی ورځو کښې به استحاض شمارلی کیږی مثلا : یوه ښځه باندی د میاشتی په اول کښې شپږ ورځی حیض راتللو بیا هغی نه د استحاض بیماری وینه شروع شوه او همیشه راتلله نو اوس به د هری میاشتی اولنۍ شپږ ورځی حیض حسابیږی ، او باقی به استحاض وی ، ددی قاعدی مطابق ښځه به د میاشتی په اول کښې شپږ ورځی روژه نه نیسي او مونځ به نه کوی ، او باقی ورځي به روژه نیسي او مونځ به کوی ، د استحاض په صورت کښې به د وینې پروا نه کوی .

**دوهم حالت** : د استحاض د شروع نه مخکښې حیض نه وو راغلی بس د شروع نه چی وینه وه نو د استحاض وه ، داسي

زنانه به د علاماتو په ذریعه عمل کوی چې د وینی نه معلومیږی ، مثلًا تور رنګ والا ټینګه بدبوداره وینه د حیض وی ، پدی به د حیض احکام جاری کیږی ، او ددي نښونه بغیر وینه به د استحاض وی ، مثلا ښځې چې داول نه وینه ولیده روان وه ، لیکن اولنۍ لس (۱۰) ورځې توره وه باقی سره وه ، یا اولنۍ لس (۱۰) ورځي ټینګه وه ، او باقی ورځي نرۍ وه او یا اولنۍ لس (۱۰) ورځې بدبوداره وه ، او باقی ورځي بدبوداره نه وه ، اول مثال کښې اولنۍ ورځي چې توره وه هغه به حیض وی ، او باقی به استحاض وي ، دغه رنګه باقی مثالونو کښې هم که اولنۍ لس ورځې ټینګه او بدبوداره وه هغه به د حیض وینه وی او باقی ورځې به د استحاض وینه حسابیږی .

**دریم حالت** : که ښځې ته حیض معلوم نه وی ، او نه څه واضحه علامه شته دي ، د کله نه ئې چې وینه لیدلي ده بس یو رنګ کښې روانه ده ، یا رنګ بدلوی ، لیکن د حیض رنګ پکښې نه وی داسی ښځه به د نورو خپلوانو همزولو ښځو د عادت مطابق حیض شماری ، د کومې ورځې نه چې

وینه شروع شوی وه هغی نه به د حیض ورځی شماری هره میاشت کښې او باقی به استحاض وی .

## احکام د استحاض:

استحاضه زنانه او پاکه زنانه کښې سیواء د دوه څیزونونه هیڅ فرق نشته دی .

اول : هر مونځ دپاره استحاضه باندی اَودس کول فرض دی .

دویم : د اودس نه مخکښې که کپړه یا جسم باندی وینه لګیدلی وی ، هغه دِی اُووینځی او عورت باندی به د مالوچو پټئ ولګوی چه و یـــنه بنده کړی .

## دنفاس حکم:

نفاس هغه وینه ده چی د بچی د پیدائش نه روستو د زنانه د رحم نه راوځی ، یا د پیدائش ددرد سره دوه ورځي مخکښې وینه خارجیږی ، نو چی وینه هر کله بنده شی زنانه به پاکه حسابیږی ، اګر که د څلویښتو ورځو نه مخکي صفائي راشي ، که د څلویښتو ورځو نه پس هم وینه روانه وه نو زنانه به

غسل وکړی ځکه چې د نفاس آخری حد څلويښت ورځې دی اګر که وينه روانه وی مګر که ددی نه پس حيض شروع شو بيا به حيض پوری انتظارکيدلی شی ، تردی پوری چې د حيض نه پاکه شی ، نفاس ترهغه وخت پوری نه ثابيتږی ترڅو چې داسی ماشوم پيداء نشی چې انسانی ډهانچه جوړه شوی وی ، که چرته داسی ټوټه د غوښی چې پوره ډهانچه انسانی نه وی هغه وينه به نفاس نه وی بلکه هغه به د کوم رګ وينه وی ، ددي وينی حکم به د استحاضوی ، ابتداء د حمل نه تر اتيا(۸۰) ورځو پوری انسانی ډهانچه جوړيږی يا زيات نه زيات نوی (۹۰) ورځې أخلی ، د نفاس واله ښځې دپاره هم هغه احکام دی کوم چې د حيض والا ښځې دپاره ذکر شو .

**حيض او حمل بندول** :

د حيض د بندولو دوائي استعمالول د ښځې دپاره جائز دی په دوه شرطونو سره :

(۱)د خاوند په اجازه چې خاوند ته پکښې څه نقصان نوی .

(۲)زنانه ته به پکښې هم څه نقصان نه وی ، که چرته زنانه ته نقصان وی بیا ناجائز ده .

د حیض د چالوکولو دوائي هم جائزده ، لیکن په دوه شرطونو سره :

(۱) د خاونداجازه .

(۲)دا عمل به د واجبی حکم نه د خلاصون په بهانه نه وی مثلًا د فرضی روژی یا د مونځ وغیره نه .

## د حمل د بندولو دوائي دوه قسم وی :

**اولنی صورت** : چه همیشه دپاره حمل بند کړی داجائز ندی

**دوهم صورت** : د لږ وخت دپاره حمل بند کړی مثلا د زنانه حمل ډیر زر کیږی ددی وجی نه زنانه ته ډیر تکلیف دی ، دزنانه خواهش وی چه کم از کم دوه کاله پس بچی پیداء شی ، داسي کول جائز دی په دوه شرطونو سره :
(۱) د خاوند اجازه (۲) دا دوائي به زنانه ته(عارضی یا مستقل) تکلیف نه ورکوی

# فهرست المضامين


| | |
|---|---|
| **د ښځو سره تړلی شوی حکمونه او مسائل** | 3 |
| دین اسلام او ښځه | 6 |
| د عامو ښځو حقونه | 9 |
| خاوند او د ښځې یو بل باندې حقونه | 13 |
| ستر او پرده | 15 |
| پرده کولو باندی نور ډیردلائل هم موجود دی | 20 |
| د حیض او نفاس حکمونه | 23 |
| د حیض احکام | 26 |
| د استحاض مرض وینه او د هغی حکمونه | 30 |
| د مستحاضی زنانه دری حالتونه دی | 31 |
| احکام د استحاض | 33 |
| دنفاس حکم | 33 |
| حیض او حمل بندول | 35 |
| فهرست | 36 |
| | |